## 1.1 تعریف او ډولونه:

تعریف : هغه معادله چي مشتقات ولري دتفاضلي معادلي په نوم یادیږي ، کیداشی چي دغه مشتقات معمولي مشتقات وي او یا قسمي مشتقات وي.

تفاضلي معادلي په دوه ډوله دي

معمولي تفاضلي معادله (Ordinary Differential Equation)

هغه معادله چي د x مستقل متحول ، د y غیرمستقل متحول چي y ته د x تابع هم وایو او د y هر ترتیب مشتق نظر x ته ولري دمعمولي تفاضلي په نامه سره یادیږي.

مثالونه:

1. $\frac{dy}{dx} + 3y = 0$

2. $\frac{dy}{dx} + y = e^x$

3. $\frac{d^2y}{dx^2} + \left(\frac{dy}{dx}\right)^2 + 2y = 0$

4. $\left(\frac{dy}{dx}\right)^2 + 2y = \sin x$

5. $\frac{d^2y}{dx^2} + 2\frac{dy}{dx} + 3y = 0$

6. $\left(\frac{d^3y}{dx^3}\right)^2 + 7\frac{d^2y}{dx^2} + 8\frac{dy}{dx} - 9y = \log x$

قسمي تفاضلي معادله (Partial Differential Equation)

هغه تفاضلي معادله چي دوه یاڅو مستقل متحوله ، تابع او ددغه تابع قسمي مشتقات (هر ترتیب چي وي) ولري دقسمي تفاضلي معادلي په نامه سره یادیږي.

مثالونه:

که چیرته z د x او y تابع وي نو:

Ketabton.com

7. $\frac{\partial^2 y}{\partial x^2} = a^2\frac{\partial^2 z}{\partial y^2}$  8. $x\frac{\partial z}{\partial x} + y\frac{\partial z}{\partial y} = 2z$  9. $\frac{\partial^2 z}{\partial x^2} + 2\frac{\partial^2 z}{\partial x \partial y} + \frac{\partial^2 z}{\partial y^2} = 0$

## 1.2 دتفاضلي معادلو ترتیب او درجه

دتفاضلي معادلي ترتیب:

په تفاضلي معادله کي لوړ ترین مشتق دتفاضلي معادلي دترتیب ځخه عبارت دی.

دتفاضلي معادلي درجه:

په تفاضلي معادله کي دلوړترین ترتیب توان دتفاضلي معادلي ددرجي ځخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته مثالونو کې:

1) لومړی ترتیب او لومړۍ درجه
2) لومړی ترتیب او لومړۍ درجه
3) دوهم ترتیب لومړۍ درجه
4) لومړی ترتیب دوهمه درجه
5) دوهم ترتیب لومړۍ درجه
6) دریم ترتیب دوهمه درجه

همدارنګه د $\frac{d^2y}{dx^2}=\left[1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2\right]^{\frac{3}{2}}$ تفاضلي معادلې دترتبیب او درجې دپیداکولو لپاره لومړی دمعادلې دواړه خواوې مربع کوو ، په نتیجه کې معادله لاندې شکل غوره کوي

$$\left(\frac{d^2y}{dx^2}\right)^2=\left[1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2\right]^3$$

اوس پورته معادله دوهم ترتیب او دوهمه درجه تفاضلي معادله ده.

باید په یاد ولرئ چی دتفاضلي معادلو ترتبیب او درجه کوم چی مونږ تعریف کړل باید مثبت تام عدد وي.

دتفاضلي معادلو حل

یوه معمولي تفاضلي معادله لاندي عمومي شکل لری

$$F\left[x,y,y',y'',\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots y^{(n)}\right]=0\ \ldots\ldots\ldots\ldots(1)$$

دیوې تفاضلي معادلې حل عبارت دهغه تابع څخه دی ، کوم چې په راکړل شوی معادله کی صدق وکړي، $\phi(x)$ تابع ته د (1) تفاضلي معادلې حل ویل کیږي ، که چیرته :

$$F[x,\phi(x),\phi'(x),\ldots\ldots\ldots\ldots,\phi^n(x)]=0$$

یاپه بل عبارت $y=\phi(x)$ تابع په (1) معادله کې صدق وکړي.

د n ام ترتیب تفاضلي معادلو حل ، چې n اختیاري ثابت عددونه ولري د عمومي حل (general solution) په نامه سره یادیږي، که چیرته په عمومي حل کې داختیاری ثابت عدد په ځای خاص قیمت وضعه شي ، دتفاضلي معادلې مشخص حل (particular solution) لاس ته راځي.

1.3 دتفاضلي معادلو ترتیب دپارامتر دحذفولوپه واسطه

ددې لپاره چې مونږ ښه پوه شو چې څنګه کولای شو چی تفاضلي معادله دپارامتر دحذفولو په واسطه تشکیل کړو ، نو لاندې مثال په نظر کې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال : داسې تفاضلي معادله تشکیل کړئ ، کوم چې د $y = a\cos(x+b)$ منحنیاتو مجموعه راښایی ، a او b اختیاري ثابت عددونه دي.

حل:

$$y = a\cos(x+b) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

داولې معادلې نظر x ته مشتق اخلو

$$\frac{dy}{dx} = -a\sin(x+b) \ldots\ldots\ldots\ldots.. (2)$$

اوس ددوهمې معادلې نظر x ته مشتق اخلو

$$\frac{d^2y}{dx^2} = -a\cos(x+b) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (3)$$

ددریمې معادلې څخه د a قیمت لمنځه وړو، په نتیجه کې لاندې تفاضلي معادله لاسته راځي

$$\frac{d^2y}{dx^2} = -y \quad => \quad \frac{d^2y}{dx^2} + y = 0$$

په نتیجه کې ویلای شو، که وغواړو یوه تفاضلي معادله تشکیل کړو ، نو لومړی باید دورکړل شو منحنیاتو مجموعي کوم چې د پارامترونو دلودونکې ده ، مشتق ونیسو او بیا پارامترونه حذف کړو.

یاداښت: (i) دمنحنیاتو هغه مجموعه کوم چې یو پارامتر ولري ، لومړی ترتیب تفاضلي معادله تشکیلوی.

(ii) په عمومې ډول دمنحنیاتو هغه مجموعه کوم چې n پارامترونه ولري ، n ام ترتیب تفاضلي معادله تشکیلوي.

### 1.4 لومړی ترتیب او لومړئ درجه تفاضلي معادله

په دې فصل کې مونږ د لومړی ترتیب او لومړئ درجې تفاضلي معادلو دحل لپاره مختلفي طریقو باندې بحث کوو، چې په عمومي ډول لومړی ترتیب او لومړئ درجه تفاضلي معادلې لاند شکل لري.

$$f\left(x, y, \frac{dy}{dx}\right) = 0 \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots. (1)$$

دپورته عمومی شکل ، عمومي حل عبارت دی له:

$$F(x, y, c) = 0 \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.. (2)$$

په دوهمه معادله کې c یو اختیاري ثابت عدد دی ، کوم چې په لومړئ معادله کې صدق کوي، که چېرته c ته یومشخص قیمت وکړو ، نو په دې صورت کې عمومي حل په مشخص حل باندې بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ دلومړی معادلې ځینې معیاري شکلونه په لاندي طریقو باندې حل کوو.

(1) هغه معادلې چې متحولین یي دتفکیک وړ وي او یا دساده کولو څخه وروسته تفکیک ته برابرېږي
(2) متجانسي تفاضلي معادلې
(3) متجانسو تفاضلي معادلوته بدلیدونکي تفاضلي معادلی
(4) کاملی تفاضلي معادلې
(5) کاملو تفاضلي معادلوته بدلیدونکی تفاضلي معادلې
(6) خطي تفاضلي معادلې
(7) خطي تفاضلي معادلوته بدلیدونکي تفاضلي معادلې (برنولي شکل)

1.5 دتفکیک وړ معادلې (Separation of variables):

ددې لپاره دتفاضلي معادلې لاندې شکل په نظر کې نیسو

$$\frac{dy}{dx} = \frac{f(x)}{g(y)} \dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots (1) \qquad (\, g(y) \neq 0 \,)$$

دمتحولینو په جداکولو سره لومړی معادله په لاندې شکل لیکو او بیا یې انتیگرال نیسو

$$g(y)dy = f(x)dx \qquad => \qquad \int g(y)dy = \int f(x)dx$$

دانتیگرال دنیونې څخه وروسته د (1) تفاضلي معادلې حل په لاندې ډول لاسته راځي

$$G(y) = F(x) + c$$

چې F(x) او G(y) په ترتیب سره د x او y توابع او c یو اختیاري ثابت عدد دی.

عملي مثالونه:

لومړی مثال: $\frac{dy}{dx} = \frac{1+y^2}{1+x^2}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: دمتحولینو دجلاکولو څخه وروسته معادله په لاندې ډول حل کوو

$$\frac{dy}{1+y^2} = \frac{dx}{1+x^2}$$

$$\int \frac{1}{1+y^2}dy = \frac{1}{1+x^2}dx$$

$$\tan^{-1} y = \tan^{-1} x + A$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\tan^{-1} y - \tan^{-1} x = A$$

$$\tan^{-1} \frac{y-x}{1+yx} = A$$

$$\tan^{-1} \frac{y-x}{1+yx} = \tan^{-1} c \quad => \quad \frac{y-x}{1+yx} = c \quad => \quad y - x = c(1+yx)$$

کوم چې دغوښتل شوي معادلې مطلوب حل دی

دوهم مثال: $\frac{dy}{dx} = e^{x+y} + x^2 e^y$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی یې متحولین سره بیلوو اوبیا یې ددواړو خواوو انتیګرال نیسو

$$\frac{dy}{dx} = e^x e^y + x^2 e^y$$

$$\frac{dy}{dx} = e^y(e^x + x^2)$$

$$e^{-y} dy = (e^x + x^2)dx$$

$$\int e^{-y} dy = \int (e^x + x^2)dx$$

$$-e^{-y} + c = e^x + \frac{x^3}{3} \quad \text{یا} \quad e^x + e^{-y} + \frac{1}{3}x^3 = c$$

دریم مثال: $e^x \tan y \ dx + (1 - e^x) \sec^2 y \ dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: ددی لپاره چې متحولین یې سره بیل کړو ، نومعادله په $(1 - e^x)\,.\,\tan y$ باندې ویشو

$$\frac{e^x}{1 - e^x} dx + \sec^2 y \, dy = 0$$

$$-\int \frac{e^x}{e^x - 1} dx + \int \frac{\sec^2 y}{\tan y} dy = \log c$$

$$-\ln(e^x - 1) + \ln \tan y = \ln c$$

$$\ln\left(\frac{\tan y}{e^x - 1}\right) = \ln c \quad \text{یا} \quad \tan y = c(e^x - 1)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلورم مثال: $\tan y \frac{dy}{dx} = \sin(x+y) + \sin(x-y)$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: د $sin\ C + sin\ D$ رابطې څخه په استفادې سره پورته معادله په لاندې شکل لیکوو

$$\tan y \frac{dy}{dx} = 2\sin x \cos y$$

$$\frac{\tan y}{\cos y} dy = 2\sin x \ dx$$

$$\sec y \tan y \ dy = 2\sin x \ dx$$

$$\int \sec y \tan y \ dy = 2\int \sin x \, dx$$

$$\sec y = -2\cos x + c \quad \text{یا} \quad \sec y + 2\cos x = c$$

پنځم مثال: $\frac{dy}{dx} = \frac{1}{\cos(x+y)}$ تفاضلي معادله حل کړئ

په راکړل شوې معادله کی متحولین یو دبل څخه نه بیلیږي ، خو که x+y=t سره تعویض کړو ، نو بیا کولای شو متحولین یې په اسانی سره بیل کړو

$$x + y = t \quad => \quad 1 + \frac{dy}{dx} = \frac{dt}{dx} \quad => \quad \frac{dy}{dx} = \frac{dt}{dx} - 1$$

دپورته قیمتونو په وضعه کولو سره معادله لاندې شکل غوره کوي

$$\frac{dt}{dx} - 1 = \frac{1}{\cos t} \quad => \quad \frac{dt}{dx} = \frac{1}{\cos t} + 1 = \frac{1 + \cos t}{\cos t}$$

اوس یې متحولین سره بیلوو ، چې لاندې شکل لاسته راکوي

$$\frac{\cos t \ dt}{1 + \cos t} = dx$$

$$\left(\frac{\cos^2\frac{t}{2} - \sin^2\frac{t}{2}}{2\cos^2\frac{t}{2}}\right) dt = dx \quad => \quad \left(\frac{1}{2} - \frac{1}{2}\tan^2\frac{t}{2}\right) dt = dx$$

$$\frac{1}{2}\left(1 - \tan^2\frac{t}{2}\right) dt = dx \quad => \quad \frac{1}{2}\left(1 - \left(\sec^2\frac{t}{2} - 1\right)\right) dt = dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{1}{2}\left(2-\sec^2\frac{t}{2}\right)dt=dx \quad => \quad \left(1-\frac{1}{2}\sec^2\frac{t}{2}\right)dt=dx$$

$$\int\left(1-\frac{1}{2}\sec^2\frac{t}{2}\right)dt=\int dx \quad => \quad t-\tan\frac{t}{2}=x+c$$

$$x+y-\tan\left(\frac{x+y}{2}\right)=x+c \quad \text{یا} \quad y-\tan\left(\frac{x+y}{2}\right)=c$$

کوم چې دراکړل شوې معادلې عمومي حل دی

شپږم مثال: $\frac{dy}{dx}+1=e^{x+y}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: x+y=t سره نیسو

$$x+y=t \quad => \quad 1+\frac{dy}{dx}=\frac{dt}{dx}$$

دغه قیمتونه په معادله کې وضعه کوو ، او په لاندې ډول يې حل کوو

$$\frac{dt}{dx}=e^t \quad => \quad e^{-t}dt=dx$$

$$\int e^{-t}dt=\int dx$$

$$-e^{-t}=x+c$$

$$-e^{-(x+y)}=x+c \quad => \quad x+e^{-(x+y)}+c+0$$

اووم مثال: $(2x-3y+1)dx+(6y-4x+3)dy=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله کی متحولین سره نه بیلیږي ، خوکه په لاندې ډول تعویض اجرا کړو ، نو بیا کولای شو چی په اسانی سره معادله کې متحولین سره بیل کړو

$$2x-3y=t \quad => \quad 2-\frac{3dy}{dx}=\frac{dt}{dx}$$

دغه قیمتونه په معادله کې وضعه کوو او په لاندې ډول يې حل کوو

$$\frac{dy}{dx}=\frac{(2x-3y)+1}{2(2x-3y)-3}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{1}{3}\left(2-\frac{dt}{dx}\right)=\frac{t+1}{2t-3} \quad \text{یا} \quad \frac{dt}{dx}=\frac{t-9}{2t-3} \quad => \quad \frac{(2t-3)}{t-9}dt=dx$$

$$\int\left(\frac{2t-3}{t-9}\right)dt=\int dx \quad \text{یا} \quad \int\left(\frac{2t}{t-9}-\frac{3}{t-9}\right)dt=\int dx$$

$$2\int\frac{t-9+9}{t-9}dt-3\int\frac{1}{t-9}dt=\int dx$$

$$2\int\left(1+\frac{9}{t-9}\right)dt-3\int\frac{1}{t-9}dt=\int dx$$

$$2[t+9\ln(t-9)]-3\ln(t-9)=x+A$$

$$2t+15\ln(t-9)=x+A$$

$$(4x-6y)+15\ln(2x-3y-9)=x+A$$

$$3x-6y+15\ln(2x-3y-9)=A$$

$$\text{یا} \quad x-2y+5\ln(2x-3y-9)=c \qquad c=\frac{1}{3}A$$

اتم مثال: $\frac{dy}{dx}=\sin(x+y)+\cos(x+y)$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل:

$$t=x+y \quad => \quad \frac{dt}{dx}=1+\frac{dy}{dx}, \quad \frac{dy}{dx}=\frac{dt}{dx}-1$$

دغه قیمتونه په راکړل شوې تفاضلي معادله کې وضعه کوو

$$\frac{dt}{dx}-1=\sin t+\cos t \quad => \quad \frac{dt}{dx}=\sin t+\cos t+1$$

$$\frac{dt}{\sin t+\cos t+1}=dx \quad => \quad \frac{dt}{2\sin\frac{t}{2}\cos\frac{t}{2}+2\cos^2\frac{t}{2}}=dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت او مخرج په $\cos^2\frac{t}{2}$ باندې ویشو

$$\frac{\sec^2\frac{t}{2}}{2\left[\tan\frac{t}{2}+1\right]}dt = dx$$

$$\int\frac{\sec^2\frac{t}{2}}{2\left[\tan\frac{t}{2}+1\right]}dt = \int dx$$

$$\ln\tan\left[\frac{t}{2}+1\right] = x+c \quad \text{یا} \quad \tan\left[\frac{x+y+2}{2}\right] = e^{x+c}$$

$$\tan\left(\frac{x+y+2}{2}\right) = A\,e^{x} \qquad (A=e^{c})$$

1.6 تمرینونه

لاندې تفاضلي معادلې حل کړئ

01. $(e^y+1)\cos x\ dx + e^y\sin x\,dy = 0$

02. $\dfrac{dy}{dx} = \dfrac{x^2y}{1+x^3}$

03. $(x+1)\dfrac{dy}{dx}+1 = 2e^{-y}$

04. $y - x\dfrac{dy}{dx} = a\left(y^2+\dfrac{dy}{dx}\right)$

05. $(x^2-yx^2)\dfrac{dy}{dx}+y^2(1+x) = 0$

06. $\dfrac{dy}{dx}+xy = xy^3$

07. $x\sqrt{1+y^2}dx = y\sqrt{1+x^2}dy = 0$

$\dfrac{dy}{dx}+\dfrac{\sqrt{1-y^2}}{\sqrt{1-x^2}} = 0\,,\quad y=1,\ \ x=0$

09. $\dfrac{dy}{dx} = \dfrac{x(2\ln x+1)}{\sin y + y\cos y}$

10. $a\left(x\dfrac{dy}{dx}+2y\right) = 2xy\dfrac{dy}{dx}$

11. $\dfrac{dy}{dx}(1+x)(1+y^2)\,,\qquad y=1,\qquad x=0$

12. $\cos y\ \ \ln(\sec x+\tan x)dx = \cos x\ \ \ln(\sec y+\tan y)dy$

تفکیک ته بدلیدونکي تفاضلي معادلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



13. $\frac{dy}{dx} = (3x + 2y + 4)^2$ 14. $\frac{dy}{dx} = \frac{6x - 2y - 7}{3x - y + 4}$

15. $(x + 2y - 1)dx = (x + 2y + 1)dy$ 16. $\frac{dy}{dx} = (x + y)^2$

17. $\frac{dy}{dx} = \sin(x + y)$ 18. $\frac{dy}{dx} = 1 + e^{x-y}$

19. $x^4 \frac{dy}{dx} + x^3 y + cosec\,(xy) = 0$ 20. $x\,dy + y\,dx + 4\sqrt{1 - x^2y^2}\,dx = 0$

جوابونه:

01. $\sin(e^y + 1) = c$ 02. $y^3 = c(1 + x^3)$ 03. $(x + 1) = c(2 - e^y)$

04. $(x + a) = c \cdot \frac{y}{(1 - ay)}$ 05. $\ln\left(\frac{x}{y}\right) - \left(\frac{1}{x} + \frac{1}{y}\right) = c$ 06. $\frac{y^2 - 1}{y^2} = Ae^{x^2}$

07. $\sqrt{1 + x^2} + \sqrt{1 + y^2} = c$ $\sin^{-1} x + \sin^{-1} y = \frac{\pi}{2}$ 09. $x^2 \ln x - y \sin y = c$

10. $e^{-2y}\, y^a\, x^{2a} = A$ 11. $\tan^{-1} y = x + \frac{x^2}{2} + \frac{\pi}{4}$

12. $[\ln(\sec x + \tan x)]^2 - [\ln(\sec y + \tan y)]^2 = c$

13. $\frac{1}{\sqrt{6}} \tan^{-1}\left[\frac{\sqrt{2}}{\sqrt{3}}(3x + 2y + 4)\right] = x + c$

14. $2x - y - 15\ln(3x - y + 19) + c = 0$ 15. $x = y + \frac{2}{3}\ln\left(x + 2y - \frac{1}{3}\right) + c$

16. $\tan^{-1}(x + y) = x + c$ 17. $1 + \tan\left\{\frac{x + y}{2}\right\} + \frac{2}{x + c} = 0$

18. $x = e^{-(x-y)} + c$ 19. $\cos xy = -\frac{1}{2x^2} - c$ 20. $\sin^{-1}(xy) + 4x = c$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متجانسې تفاضلي معادلې (Homogeneous Differential Equations)

$f(x,y)$ یوه $n$ امه درجه متجانسه تابع ده ، که چیرته $f(\lambda x\,,\lambda y) = \lambda^n\, f(x,y)$ سره شي،
دمثال په ډول $x^2 + xy$ ، $\sqrt{x^2+y^2}$ او $\sin\left(\frac{x}{y}\right)$ په ترتیب سره دوهمه ، اوله او صفرمه درجه متجانسې توابع دي.

$M(x\,,y)\,dx + N(x\,,y) = 0$ یوه لومړی ترتیب او لومړۍ درجه متجانسه تفاضلي معادله ده ، که چیرته $M$ او $N$ یو شان درجه لرونکې متجانسې توابع وي، پورته معادله کولای شو د $\frac{dy}{dx} = f(x,y)$ په شکل ولیکو، چې $f(x,y) = -\frac{M(x,y)}{N(x,y)}$ یوه صفرمه درجه متجانسه تابع ده ، دغه تابع بیا د $\frac{x}{y}$ یا $\frac{y}{x}$ په شکل لیکلای شو ، چې ددې څخه لاندې معادلې لاسته راځي

$$\frac{dy}{dx} = f\left(\frac{y}{x}\right) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.(1) \qquad \text{یا} \qquad \frac{dx}{dy} = f\left(\frac{x}{y}\right)\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(2)$$

په لومړۍ معادله کې $\frac{y}{x} = v$ سره تعویض کوو او په دوهمه معادله کې $\frac{x}{y} = v$ سره تعویض کوو، ورسته یې بیا متحولین سره بیلوو اوحل بیا یې حل کوو، چې دلومړۍ معادلې لپاره په لاندې ډول عمل اجراکوو

$$\frac{y}{x} = v \quad => \quad y = vx\,, \quad \frac{dy}{dx} = v + x\frac{dv}{dx}$$

دغه قیمتونه په لومړۍ معادله کې وضعه کوو

$$v + x\frac{dv}{dx} = f(v)$$

اوس یې متحولین سره بیلوو او انتیګرال یې نیسو

$$\frac{dx}{x} = \frac{dv}{f(v)-v} \quad => \quad \ln x + c = \int \frac{dv}{f(v)-v}$$

چې c یو اختیاري ثابت عدد دی ، همدارنګه ددوهمې معادلې دحل لپاره په لاندې ډول عمل اجراکوو

$$\frac{x}{y} = v \quad => \quad x = vy\,, \quad \frac{dx}{dy} = v + y\frac{dv}{dx}$$

دغه قیمتونه په دوهمه معادله کې وضعه کوو

$$v + y\frac{dv}{dx} = f(v)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته معادله هم دمتحولینو په جلا کولو سره حل کوو

عملي مثالونه:

لومړی مثال: $(x-y)dy-(x+y)dx=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی معادله د $\frac{dy}{dx}=\frac{x+y}{x-y}$ په شکل لیکو ، دمعادلې ښي صرف یوه متجانسه تابع ده ، او په لاندې ډول تعویض اجرا کوو

$$y=vx \quad => \quad \frac{dy}{dx}=v+x\frac{dv}{dx}$$

دغه قیمتونه په معادله کې وضعه کوو

$$v+\frac{xdv}{dx}=\frac{x+vx}{x-vx} \quad => \quad v+\frac{xdv}{dx}=\frac{1+v}{1-v} \quad => \quad \frac{xdv}{dx}=\frac{1+v}{1-v}-v$$

$$\frac{xdv}{dx}=\frac{(1+v)-v(1-v)}{1-v} \quad \text{یا} \quad \frac{1-v}{1+v^2}dv=\frac{dx}{x}$$

$$\int\frac{1}{1+v^2}dv-\frac{1}{2}\int\frac{2v}{1+v^2}dv=\int\frac{1}{x}dx$$

$$\tan^{-1}v-\frac{1}{2}\ln(1+v^2)=\ln x+c \quad => \quad \tan^{-1}\frac{y}{x}-\frac{1}{2}\ln\left(1+\frac{y^2}{x^2}\right)=\ln x+c$$

$$\text{یا} \quad \tan^{-1}\frac{y}{x}-\ln\sqrt{x^2+y^2}=c$$

دوهم مثال: $(x^2-xy+y^2)dx-xydy=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی معادله په لاندې شکل لیکو

$$\frac{dy}{dx}=\frac{x^2-xy+y^2}{xy}=\frac{1-\frac{y}{x}+\frac{y^2}{x^2}}{\frac{y}{x}}$$

دمعادلې ښي طرف یوه متجانسه تابع راښایي ، او دحل لپاره یې لومړی په لاندې دول تعویض اجراکوو

$$\frac{y}{x}=v \quad => \quad \frac{dy}{dx}=v+x\frac{dv}{dx}$$

دغه قیمتونه په معادله کې وضعه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v + x\frac{dv}{dx} = \frac{1 - v + v^2}{v} \quad یا \quad x\frac{dv}{dx} = \frac{1 - v - v^2}{v} - v \quad یا \quad x\frac{dv}{dx} = \frac{1 - v}{v}$$

اوس يي متحولين سره بيلوو او انتيګرل يي نيسو

$$\frac{dx}{dv} = \frac{v}{1 - v}dv \quad یا \quad \frac{dx}{v} = \left(\frac{v - 1 + 1}{1 - v}\right)dv$$

$$\int \frac{1}{x}dx = -\int \left(1 + \frac{1}{v - 1}\right)dv$$

$$\ln x = -[v + \ln(v - 1)] + c \quad یا \quad \ln x(v - 1) = c - v$$

$$\ln(y - x) = c - \frac{y}{x}$$

کوم چې دراکړل شوې معادلې عمومي حل دی

دريم مثال: $x\,dy - y\,dx = \sqrt{x^2 + y^2}dx$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوی معادله په لاندې شکل ليکو

$$x\frac{dy}{dx} - y = \sqrt{x^2 + y^2}$$

$$x\frac{dy}{dx} = y + \sqrt{x^2 + y^2}$$

$$\frac{dy}{dx} = \frac{y + \sqrt{x^2 + y^2}}{x}$$

کومه چې یوه متجانسه تفاضلي معادله ده او دحل کولو لپاره يې په لاندې ډول تعويض اجراکوو

$$y = vx \quad => \quad \frac{dy}{dx} = v + \frac{xdv}{dx}$$

دغه قيمتونه په معادله کې وضعه کوو

$$v + \frac{xdv}{dx} = \frac{vx + \sqrt{x^2 + v^2x^2}}{x} = v + \sqrt{1 + v^2}$$

$$\frac{xdv}{dx} = \sqrt{1 + v^2}$$

متحولين يې سره بيلوو او انتيګرال يې نيسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{dv}{\sqrt{1+v^2}}=\frac{dx}{x} \qquad => \qquad \int\frac{1}{\sqrt{1+v^2}}dv=\int\frac{1}{x}dx$$

$$\ln\left[v+\sqrt{1+v^2}\right]=\ln x+\ln c \qquad => \qquad v+\sqrt{1+v^2}=xc$$

$$\frac{y}{x}+\sqrt{1+\frac{y^2}{x^2}}=xc \qquad => \qquad y+\sqrt{x^2+y^2}=x^2c$$

څلورم مثال: $\frac{dy}{dx}=\frac{y}{x}+\tan\frac{y}{x}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لیدل کیږي چې دمعادلې ښی طرف یوه متجانسه تابع ده ، نودحل لپاره یې په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$\frac{y}{x}=v \qquad => \qquad y=vx \qquad \therefore \qquad \frac{dy}{dx}=v+\frac{xdv}{dx}$$

دغه قیمتونه په معادله کې وضعه کوو

$$v+\frac{xdv}{dx}=v+\tan x \qquad => \qquad \frac{xdv}{dx}=\tan v \qquad \text{یا} \qquad \frac{dv}{\tan v}=\frac{dx}{x}$$

$$\cot v\,dv=\frac{dx}{x} \qquad => \qquad \int\cot v\ dv=\int\frac{1}{x}dx$$

$$\ln\sin v+\ln c=\ln x \qquad \text{یا} \qquad x=c\sin v \qquad \text{یا} \qquad x=c\sin\left(\frac{y}{x}\right)$$

پنځم مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$x\cos\left(\frac{y}{x}\right)(y\,dx+x\,dy)=y\sin\left(\frac{y}{x}\right)(x\,dy-y\,dx)$$

حل: تفاضلي معادله په لاندې شکل لیکو

$$\left[x\cos\left(\frac{y}{x}\right)+y\sin\left(\frac{y}{x}\right)\right]y-\left[y\sin\left(\frac{y}{x}\right)-x\cos\left(\frac{y}{x}\right)\right]x\frac{dy}{dx}=0$$

$$\frac{dy}{dx}=\frac{\left\{x\cos\left(\frac{y}{x}\right)+y\,sin\ \left(\frac{y}{x}\right)\right\}y}{\left\{y\sin\left(\frac{y}{x}\right)-x\,cos\ \left(\frac{y}{x}\right)\right\}\ x}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{dy}{dx}=\frac{\left\{\cos\left(\frac{y}{x}\right)+\frac{y}{x}\ sin\ \left(\frac{y}{x}\right)\right\}\frac{y}{x}}{\left\{\frac{y}{x}\sin\left(\frac{y}{x}\right)-\ cos\ \left(\frac{y}{x}\right)\right\}}\ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.(1)$$

اوس دمعادلې دحل لپاره په لاندې ډو تعویض اجراکوو

$$\frac{y}{x}=v \quad => \quad y=vx \quad \therefore \quad \frac{dy}{dx}=v+\frac{xdv}{dx}$$

ددغه قیمتونو په وضعه کولو سره لومړی معادله لاندې شکل غوره کوي

$$v+\frac{xdv}{dx}=\frac{v(\cos v+v\sin v)}{v\ sin\ v-\cos v}$$

$$\frac{xdv}{dx}=\frac{v(\cos v+v\sin v)}{v\ sin\ v-\cos v}-v=\frac{2v\cos v}{v\sin v-\cos v}$$

$$2\frac{dx}{x}=\frac{v\sin v-\cos v}{v\cos v}dv$$

$$2\int\frac{1}{x}dx=\int\left(\frac{\sin v}{\cos v}-\frac{1}{v}\right)dv$$

$$2\ln x=-\ln\cos v-\ln v+\ln c$$

$$\ln x^2=\ln\left(\frac{c}{v\cos v}\right)$$

$$x^2\ v\cos v=c \qquad \text{یا} \quad xy=\cos\left(\frac{y}{x}\right)=c$$

شپږم مثال:　لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$\left(1+e^{\frac{x}{y}}\right)dx+e^{\frac{x}{y}}\left(1-\frac{x}{y}\right)dy=0$$

حل: راکړل شوی معادله کولای شو په لاندې ډول ولیکو

$$\frac{dx}{dy}=-\frac{e^{\frac{x}{y}}\left(1-\frac{x}{y}\right)}{\left(1+e^{\frac{x}{y}}\right)}\ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(1)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمعادلې ښی طرف یوه متجانسه تابع راښايي ، نو دمعادلې دحل لپاره په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$x = vy \qquad \therefore \qquad \frac{dx}{dy} = v + y\frac{dv}{dy}$$

دغه قیمتونه په لومړۍ معادله کې وضعه کوو

$$v + y\frac{dv}{dy} = -\frac{e^v(1-v)}{(1+v)} \qquad y\frac{dv}{dy} = -\frac{e^v(1-v)}{(1+v)} - v = -\frac{(v+e^v)}{1+v}$$

اوس يې متحولين سره بیلوو او انتیګرال يی پیداکوو

$$\frac{1+e^v}{v+e^v}dv = -\frac{dy}{y} \qquad \therefore \qquad \int\left(\frac{1+e^v}{v+e^v}\right)dv = -\int\frac{1}{y}dy$$

$$\ln(v+e^v) = -\ln y + \ln c$$

$$\ln(v+e^v)\,y = \ln c \qquad \text{یا} \qquad y(v+e^v) = c$$

$$y\left(\frac{x}{y} + e^{\frac{x}{y}}\right) = c \qquad \text{یا} \qquad x + ye^{\frac{x}{y}} = c$$

## 1.7 تمرینونه

لاندې تفاضلي معادلې حل کړئ

01. $(x-y)\frac{dy}{dx} = x + 2y$

02. $(x^3 - 3xy^2)dx = (y^3 - 3x^2y)dy$

03. $(3xy + y^2)dx - (x^2 + xy)dy = 0$

04. $x\frac{dy}{dx} - y + x\sin\left(\frac{y}{x}\right) = 0$

05. $(x^2 - 2y^2)dx + xydy = 0$

06. $\frac{dy}{dx} = \frac{y}{x} + \tan\left(\frac{y}{x}\right)$

07. $\frac{dy}{dx} = \frac{x^3 + 2y^3}{2xy^2}$

08. $\frac{dy}{dx} = 1 + \frac{y}{x} + \frac{y^2}{x^2}$

09. $y\,dx + x\left(\ln\left(\frac{y}{x}\right)\right) - 2x\,dy = 0$

10. $x^2 + (x^2 - xy)\frac{dy}{dx} = 0$

11. $\frac{dy}{dx} = \frac{y}{x - \sqrt{xy}}$

12. $\left(x\tan\frac{y}{x} - y\sec^2\frac{y}{x}\right)dx + x\sec^2\left(\frac{y}{x}\right)dy = 0$

13. $(x^2 + y^2)dx = 2xdy \qquad y(1) = 0$

14. $xe^{\frac{y}{x}} - y + xy' = 0 \qquad y(e) = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه:

1. $\ln|x^2+xy+y^2| = 2\sqrt{3}\tan^{-1}\left(\frac{x+2y}{x\sqrt{3}}\right)+c$    2. $(x^2-y^2)=c(x^2+y^2)^2$

3. $\ln\left|\frac{y}{x^3}\right|+\frac{y}{x}=c \qquad (x\neq 0\,,\ y\neq 0)$

4. $x\sin\frac{y}{x}=c\left(1+\cos\frac{y}{x}\right)\left(x\sin\frac{y}{x}\right) \qquad (x\neq 0)$

5. $y^2=x^2+cx^4$    6. $\sin\left(\frac{y}{x}\right)=cx$    7. $2y^3=3x^3(\ln x+c)$

8. $y=x\tan\ln(cx)$    9. $cy=\ln\frac{y}{x}-1$    10. $y=(\ln y+c)$

11. $2\cdot\sqrt{\frac{x}{y}}+\ln y=0$    12. $x\tan\frac{y}{x}=c$    13. $x^2-y^2=x$

14. $y=-x\ln\ln|x| \qquad (x\neq 0)$

## 1.8 هغه معادلې چې په متجانسو معادلو باندې بدلیږی

داډول معادلې عموما د $\frac{dy}{dx}=\frac{ax+by+c}{Ax+By+C}$ په شکل دي، چې a, b ,c ,A ,B, C ثابت عددونه دي، دداډول معادلو دحل لپاره لاندې دوه حالتونه موجود دي.

اول حالت: که چیرته $\frac{a}{A}=\frac{b}{B}=k$ (فرضیه) نو په دې صورت کې معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dy}{dx}=\frac{k(Ax+By)+c}{Ax+By+C}$$

په داډول معادلو کې کولاي شو چې د $Ax+By=t$ تعویض څخه وروسته متحولین په اسانی سره بیل کړو.

دوهم حال: که چیرته $\frac{a}{A}\neq\frac{b}{B}$ سره وي، نو په دې صورت کې راکړل شوی تفاضلي معادله د $x=X+h$ او $y=Y+k$ په وضعه کولو سره معادله په متجانسه تفاضلي معادله باندې بدلیږي، چې h او k ثابت عددونه دي ، او دمعادلاتو دحل څخه لاسته راځي.

$$x=X+h \quad => \quad dx=dX\,, \qquad y=Y+k \quad => \quad dy=dY$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\therefore \frac{dy}{dx} = \frac{dY}{dX}$$

اوس نو معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dY}{dX} = \frac{(aX + bY) + (ah + bl + c)}{(AX + BY) + (Ah + Bk + C)}$$

که چیرته h او k داسې انتخاب کړو چې $Ah + Bk + C = 0$ , $ah + bk + c = 0$ سره شي،
نو په دی صورت کې پورته معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dY}{dX} = \frac{aX + bY}{AX + BY}$$

پورته معادله یوه متجانسه تفاضلي معادله ده ، او دلاندې تعویض په اساس یی حل کوو

$$Y = VX\,,\ \ V = V(X) \qquad\qquad X = VY\,,\ \ V = V(Y)$$

عملي مثالونه: $\frac{dy}{dx} = \frac{x+2y+1}{2x+4y+3}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله یوه متجانسه معادله نه ده ،خو نوموړی معادله په پورته حالتونو کې لومړی
حالت رابنايي ، نوراکړل شوی معادله په لاندې شکل لیکو

$$\frac{dy}{dx} = \frac{x + 2y + 1}{2(x + 2y) + 3} \dots\dots\dots (1) \qquad x + 2y = t \qquad => \qquad 1 + 2\frac{dy}{dx} = \frac{dt}{dx}$$

ددغه قیمتونو په وضعه کولو سره لومړی معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{1}{2}\left(\frac{dt}{dx} - 1\right) = \frac{t + 1}{2t + 3}\ ,\ \ \frac{dt}{dx} - 1 = \frac{2t + 2}{2t + 3}$$

$$\frac{dt}{dx} = \frac{2t + 2}{2t + 3} + 1 = \frac{2t + 2 + 2t + 3}{2t + 3}$$

$$\frac{dt}{dx} = \frac{4t + 5}{2t + 3} \qquad => \qquad \left(\frac{2t + 3}{4t + 5}\right)dt = dx$$

$$\int\left(\frac{\frac{1}{2}(4t + 5) + \frac{1}{2}}{4t + 5}\right)dt = \int dx \qquad \frac{1}{2}\int\left(1 + \frac{1}{4t + 5}\right)dt = x + c$$

$$\frac{1}{2}\left[t + \frac{1}{4}\ln(4t + 5)\right] = x + c$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$4t+\ln(4t+5)=8x+8c$$

$$4(x+2y)+\ln(4x+8y+5)=8x+c_1$$

$$4(2y-x)+\ln(4x+8y+5)=c_1$$

کوم چې دراکړل شوی معادلې عمومي حل دی

دوهم مثال: $(x+2y)(dx-dy)=dx+dy$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوي معادله په لاندې ډول ليکو

$$(x+2y-1)dx=(x+2y+1) \quad \text{یا} \quad \frac{dy}{dx}=\frac{x+2y-1}{x+2y+1} \;\ldots\ldots\ldots\ldots(1)$$

$$x+2y=t \quad => \quad 1+2\frac{dy}{dx}=\frac{dt}{dx} \quad \text{یا} \quad \frac{dy}{dx}=\frac{1}{2}\left[\frac{dt}{dx}-1\right]$$

$$\frac{1}{2}\left[\frac{dt}{dx}-1\right]=\frac{t-1}{t+1} \quad \text{یا} \quad \frac{dt}{dx}-1=\frac{2t-2}{t+1}$$

$$\frac{dt}{dx}=\frac{2t-2}{t+1}+1=\frac{2t-2+t+1}{t+1}=\frac{3t-1}{t+1}$$

اوس يې متحولين سره بيلوو

$$\left(\frac{t+1}{3t-1}\right)dt=dx \quad \text{یا} \quad \frac{1}{3}\left[1+\frac{4}{3t-1}\right]dt=dx$$

اوس يې انتيګرال پيداکوو

$$\frac{1}{3}\int\left(1+\frac{4}{3t-1}\right)dt=\int dx$$

$$\frac{1}{3}\left[t+4\cdot\frac{1}{3}\ln(3t-1)\right]=x+c$$

$$\frac{1}{3}\left[x+2y+\frac{4}{3}\ln(3x+6y-1)\right]=x+c$$

کوم چې دراکړل شوي معادلې عمومي حل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم مثال: $\frac{dy}{dx}=\frac{x+2y-3}{2x+y-3}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوي معادله $\frac{a}{A}\neq\frac{b}{B}$ په شکل ده ، نو دراکړل شوی معادلې دحل لپاره په لاندې ډول تعويض اجراکوو

$$x=X+h\,,\quad y=Y+k\qquad =>\qquad \frac{dy}{dx}=\frac{dY}{dX}$$

ددغه قيمتونو په وضعه کولو سره راکړل شوی معادله لاندې شکل غوره کوي

$$\frac{dY}{dX}=\frac{X+2Y+(h+2k-3)}{2X+Y+(2h+k-3)}$$

د $2h+k-3=0$ او $h+2k-3=0$ معادلو دحل څخه $k=1$ او $h=1$ لاسته راځي

$$\therefore\quad x=X+1\ ,\quad y=Y+1\qquad =>\qquad X=x-1\ ,\quad Y=y-1$$

اوس نوموړې معادله لاندې شکل اختياروي، کومه چې يوه متجانسه معادله ده

$$\frac{dY}{dX}=\frac{X+2Y}{2X+Y}\quad \dots\dots\dots\dots\dots\dots(1)$$

$$Y=VX\qquad \text{نو}\qquad \frac{dY}{dX}=V+X\frac{dV}{dX}$$

دپورته قيمتونوپه وضعه کولوسره لومړی معادله لاندې شکل اختياروي

$$V+X\frac{dV}{dX}=\frac{X+2VX}{2X+VX}\qquad =>\qquad V+X\frac{dV}{dX}=\frac{1+2V}{2+V}$$

$$X\frac{dV}{dX}=\frac{1+2V}{2+V}-V=\frac{1+2V-2V-V^2}{2+V}=\frac{1-V^2}{2+V}$$

اوس يې متحولين سره بيلوو او دقسمي کسرونو دتجزيې په مرسته يې انتيګرال پيداکوو

$$\left(\frac{2+V}{1-V^2}\right)dV=\frac{dX}{X}\qquad =>\qquad \left[\frac{3}{2}\left(\frac{1}{1-V}\right)+\frac{1}{2}\left(\frac{1}{1+V}\right)\right]dV=\frac{dX}{X}$$

$$\frac{3}{2}\int\left(\frac{1}{1-V}\right)dV+\frac{1}{2}\int\left(\frac{1}{1+V}\right)dV=\int\frac{1}{X}dX$$

$$-\frac{3}{2}\ln(1-V)+\frac{1}{2}\ln(1+V)=\ln X+\ln c$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$-3\ln(1-V)+\ln(1+V)=2(\ln X+\ln c)$$

$$\ln\frac{1+V}{(1-V)^3}=2\ln X\,c$$

$$X^2c^2=\frac{1+V}{(1-V)^2}\qquad c^2(X-Y)^3=X+Y\qquad \left(\therefore V=\frac{Y}{X}\right)$$

$$(x-y)^3c^2=x+y-2$$

ځلورم مثال: $\frac{dy}{dx}=\frac{3y-7x+7}{3x-7y-3}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله دوهم حالته ته ورته ده ، او دحل لپاره یې په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$x=X+h\,,\qquad y=Y+k\qquad =>\qquad \frac{dy}{dx}=\frac{dY}{dX}$$

دپورته قیمتونو په وضعه کولو سره راکړل شوې معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dY}{dX}=\frac{3Y-7X+(3k-7h+7)}{3X-7Y+(3h-7k-3)}$$

د $3k-7h+7=0$ او $3h-7k-3=0$ معادلو دحل څخه h=1 او k=0 څخه لاسته راځي، په نتیجه کې معادله لاندې شکل اختیاروي، کومه چې یوه متجانسه تفاضلي معادله ده

$$\frac{dY}{dX}=\frac{3Y-7X}{3X-7Y}$$

$$Y=VX\qquad =>\qquad \frac{dY}{dX}=V+X\frac{dV}{dX}$$

$$V+X\frac{dV}{dX}=\frac{3VX-7X}{3X-7VX}=\frac{3V-7}{3-7V}$$

$$X\frac{dV}{dX}=\frac{3V-7}{3-7V}-V=\frac{3V-7-3V+7V^2}{3-7V}$$

$$X\frac{dV}{dX}=\frac{7(V^2-1)}{3-7V}$$

اوس یې متحولین سره بیلوو او دقسمي کسرونو دتجزیې په مرسته یې انتیګرال پیداکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$7\frac{dX}{X}=\frac{3-7V}{(V-1)(V+1)}dV$$

$$7\int\frac{1}{X}dX=-\int\left(\frac{2}{V-1}+\frac{5}{V+1}\right)dV$$

$$7\ln X=-[2\ln(V-1)+5\ln(V+1)]+\ln c$$

$X^7(V-1)^2(V+1)^5=c$ یا $X^7\left(\frac{Y}{X}-1\right)^2\left(\frac{Y}{X}+1\right)^5=c$

$(Y-X)^2(Y+X)^5=c$ یا $(y-x+1)^2(y+x-1)^2=c$

## 1.9 تمرینونه:

لاندې تفاضلي معادلې حل کړئ

1. $\frac{dy}{dx}=\frac{x-y+3}{2x-2y+5}$
2. $(6x-4y+3)dx=(3x-2y+1)dy$
3. $\frac{dy}{dx}=\frac{y-x+1}{y-x-5}$
4. $\frac{dy}{dx}=\frac{3x-4y-2}{3x-4y-3}$
5. $(2x-4y+3)dy+(x-2y+1)dx=0$
6. $(x-2y+5)dx-(2x+y-1)dy=0$
7. $\frac{dy}{dx}=\frac{y-x+1}{y+x+5}$
8. $(2x+3y-5)\frac{dy}{dx}+(3x+2y-5)=0$
9. $(2x+y+6)dx=(y-x-3)dy$
10. $\frac{dy}{dx}=\frac{x-y+1}{x+2y-3}$
11. $\frac{dy}{dx}=\frac{x+2y-3}{2x+y-3}$
12. $(2y-x-1)dy-(2x-y+1)dx=0$

جوابونه:

1. $(2y-x)=\ln(x-y+2)+c$
2. $(2y-x)=\frac{1}{4}\ln(12x-8y+1)+c$
3. $\frac{(y-x)^2}{2}-5(y-x)=6x+c$
4. $x-y=\ln(3x-4y+1)+c$
5. $\ln\{4(x-2y)+5\}=4(x+2y)+c$
6. $x^2-y^2-4xy+10x+2y=c$

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. $\ln\{(x+2)^2+(y+3)^2\}^{\frac{1}{2}}+\tan^{-1}\left\{\frac{y+3}{x+2}\right\}=c$

8. $3x^2+4xy+3y^2-10x-10y+10=c$　　9. $y^2-2xy-2x^2-6y-12x-18=c$

10. $\frac{1}{2\sqrt{2}}\ln\left(\frac{X+\sqrt{2}Y}{X-\sqrt{2}Y}\right)-\frac{1}{2}\ln\left(\frac{2Y^2-X^2}{X^2}\right)=X+c \quad X=x-\frac{1}{3}\ ,\ Y=y-\frac{4}{3}$

11. $(y-x)^3=c(x+y-2)$　　12. $(3x-3y+2)(x+y)^3=c$

## خطي تفاضلي معادلې (Linear Differential Equations)

هغه تفاضلي معادلې چې $\frac{dy}{dx}+P(x)y=Q(x)\ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.(1)$ شکل ولري ، خطي تفاضلي معادلې ورته وایي ، چې P او Q د x تابع دي، یا هم ثابت عددونه دي ، y او د y مشتق $y'$ باید یو مثبت تام عدد وي ، چې دیو ځخه به لوي هم نه وی، او نه به $yy'$ دحاصل ضرب په شکل وي.

دلومړۍ معادلې دحل لپاره ، دمعادلې دواړه خواوې په $e^{\int Pdx}$ فکتور کې ضربوو ، کوم چې لاندې شکل اختیاروي

$$\left[\frac{dy}{dx}+P(x)y\right]e^{\int Pdx}=Q(x)e^{\int Pdx} \quad \text{یا} \quad \frac{d}{dx}\left[y\,e^{\int Pdx}\right]=Q(x)e^{\int Pdx}$$

اوس یې نظر x ته انتیګرال نیسو

$$ye^{\int Pdx}=\int Q(x)e^{\int Pdx}\,dx+c$$

کوم چې غوښتل شوې حل دی

یادابښت: $e^{\int Pdx}$ فکتورته دانتیګرال فکتور ته دلومړۍ معادلې دانتیګرال فکتور وایي، همدارنګه ځیني وخت خطي تفاضلي معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dx}{dy}+P(y)x=Q(y)$$

چې په دې صورت کې دراکړل شوې معادلې دانتیګرال فکتور عبارت د $e^{\int Pdy}$ ځخه دی ، او دمعادلې حل په لاندې ډول دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$xe^{\int Pdy} = \int Q(y)e^{\int Pdy}\, dy + c$$

عملي مثالونه:

لومړی مثال: $\frac{dy}{dx} + \frac{2}{x}y = x^3$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوي معادله $\frac{dy}{dx} + P(x)y = Q(x)$ په شکل ده ، چې $Q = x^3$ او $P = \frac{2}{x}$ څخه دي، دانتیګرال فکتور یې په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int Pdx} = e^{\int \frac{2}{x}dx} = e^{2\ln x} = e^{\ln x^2} = x^2$$

اوس دمعادلې عمومي حل دلاندې فورمول په اساس لاسته راوړو

$$y \times IF = \int Q.IFdx + c$$

قیمتونه په فورمول کې وضعه کوو

$$y\,x^2 = \int x^3.x^2dx + c \quad \text{یا} \quad yx^2 = \int x^5dx + c$$

$$yx^2 = \frac{x^6}{6} + c \qquad \text{یا} \qquad y = \frac{x^4}{6} + \frac{c}{x^2}$$

دوهم مثال: $\frac{dy}{dx} + y\sec x = \tan\ x$ تفاضلي معادله حل کړې

حل: $Q = \tan x$ , $P = \sec x$ سره دي ، نو لومړی یې دانتیګرال فکتور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int Pdx} = e^{\int \sec x dx} = e^{\ln(\sec x + \tan x)} = (\sec x + \tan x)$$

پس دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول دی

$$y(\sec x + \tan x) = \int \tan x\,(\sec x + \tan x)dx + c$$

$$y(\sec x + \tan x) = \int \sec x \tan x\, dx + \int (\sec^2 x - 1)dx + c$$

$$y(\sec x + \tan x) = \sec x + \tan x - x + c \qquad \therefore\ y = 1 + \frac{c - x}{\sec x + \tan x}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم مثال: $\frac{dy}{dx}+\frac{2}{x}y=x\ln x$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل:

$$p=\frac{2}{x} \quad \text{او} \quad Q=x\ln x$$

دمعادلي دحل لپاره لومړی باید دانتیګرال فکټور پیداکړو

$$IF=e^{\int Pdx}=e^{\int\frac{2}{x}dx}=e^{2\ln x}=e^{\ln x^2}=x^2$$

اوس دراکړل شوې معادلې دحل لپاره په لاندې ډول عمل اجراکوو

$$y.x^2=\int x\ln x\,.x^2dx+c$$

پورته انتیګرال دانقسام په طریقه پیداکوو

$$yx^2=\ln x\,.\frac{x^4}{4}-\frac{x^4}{16}+c \quad \text{یا} \quad y=\frac{x^2}{4}\ln x-\frac{x^2}{16}+\frac{c}{x^2}$$

څلورم مثال: $(1+x^2)\frac{dy}{dx}+y=e^{\tan^{-1}x}$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله لومړی په لاندې شکل لیکو

$$\frac{dy}{dx}+\frac{1}{(1+x^2)}y=\frac{e^{\tan^{-1}x}}{1+x^2} \quad , \quad P=\frac{1}{1+x^2} \quad \text{او} \quad Q=\frac{e^{\tan^{-1}x}}{1+x^2}$$

دراکړل شوې معادلې دحل لپاره لومړی دانتیګرال فکټور پیداکوو

$$IF=e^{\int Pdx}=e^{\int\frac{1}{1+x^2}dx}=e^{\tan^{-1}x}$$

اوس معادله په لاندې ډول پیداکوو

$$ye^{\tan^{-1}x}=\int\frac{e^{\tan^{-1}x}}{1+x^2}\,.e^{\tan^{-1}x}dx+c=\int\frac{e^{2\tan^{-1}x}}{1+x^2}dx+c$$

$$ye^{\tan^{-1}x}=I+c$$

په معادله کې موجود انتیګرال لومړی په تعویضي طریقه پیداکوو ، او بیا یې په معادله کې د $I$ په ځای وضعه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$I = \int \frac{e^{2\tan^{-1}x}}{1+x^2}dx \quad , \qquad \tan^{-1}x = t \quad => \quad \frac{1}{1+x^2}dx = dt$$

$$I = \int e^{2t}dt = \frac{e^{2t}}{2} = \frac{e^{2\tan^{-1}x}}{2}$$

نو دراکړل شوې معادلې حل په لاندې ډول دی

$$ye^{\tan^{-1}x} = \frac{e^{2\tan^{-1}x}}{2} + c \qquad y = \frac{e^{\tan^{-1}x}}{2} + c\, e^{-\tan^{-1}x}$$

پنځم مثال: $\sin^2 x\frac{dy}{dx} - y = \cot x$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله په لاندې شکل لیکو

$$\frac{dy}{dx} - \frac{y}{\sin^2 x} = \frac{\cot x}{\sin^2 x} \qquad \text{یا} \qquad \frac{dy}{dx} - y\,cosec^2x = \cot x\ \ cosec^2x$$

$$P = -cosec^2x \qquad Q = \cot x\ \ cosec^2x$$

اوس یې دانتیګرال فکتور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int Pdx} = e^{-\int cosec^2x\,dx} = e^{\cot x}$$

پس دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول پیداکوو

$$ye^{\cot x} = \int (\cot x\ \ cosec^2x)\, e^{\cot x}dx + c$$

$$ye^{\cot x} = I + c$$

د $I$ قیمت لومړی په لاندې ډول لومړی دتعویضي طریقې او وروسته دانقسام طریقې څخه په ګټه اخیستنې سره پیداکوو

$$I = \int (\cot x\ \ cosec^2x)e^{\cot x}dx \qquad \cot x = t$$

$$-cosec^2x\,dx = dt$$

$$I = -\int t\,e^t dt = -\left[t\,e^t - \int e^t.1\,dt\right]$$

$$I = -[t\,e^t - e^t] = e^t - t\,e^t = e^t(1-t)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نتیجه کې لیکلای شو چې

$$y\, e^{\cot x} = e^{\cot x}(1-\cot x) + c \qquad \text{یا} \qquad y = (1-\cot x) + ce^{-\cot x}$$

شپږم مثال: $(x+\tan y)\, dy = \sin 2y\, dx$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله کولای شو په لاندې ډول ولیکو

$$\frac{dy}{dx} = \frac{x+\tan y}{\sin 2y} \qquad \text{یا} \qquad \frac{dy}{dx} = -\frac{1}{\sin 2y}x = \frac{\tan y}{\sin 2y}$$

کومه چې د $\frac{dx}{dy} + P(y)\, x = Q(y)$ شکل لري، ددې څخه لیکلای شو چې:

$$P = -\frac{1}{\sin 2y} \qquad \text{او} \qquad Q = \frac{\tan y}{\sin 2y}$$

لومړی دانتیګرال فکټور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int P dy} = e^{-\int \frac{1}{\sin 2y}dy} = e^{-\frac{1}{2}\int \frac{\sec^2 y}{\tan y}dy} = e^{-\frac{1}{2}\ln \tan y} = e^{\ln \frac{1}{\sqrt{\tan y}}}$$

$$= \frac{1}{\sqrt{\tan y}} = \sqrt{\cot y}$$

اوس دراکړل شوې معادلې عمومي دفورمول په نظر کې نیولوسره په لاندې ډول حل کوو

$$x\sqrt{\cot y} = \int \frac{\tan y}{\sin 2y}\sqrt{\cot y}\; dy + c = \int \frac{\sec^2 y}{2\sqrt{\tan y}}dy + c$$

$$x\sqrt{\cot y} = \sqrt{\tan y} + c \qquad\qquad x = \tan y + c\sqrt{\tan y}$$

اووم مثال: $(1+y^2)\, dx = (\tan^{-1} y - x)dy$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوې معادله په لاندې ډول لیکو

$$\frac{dx}{dy} + \frac{1}{1+y^2}x = \frac{\tan^{-1} y}{1+y^2} \qquad \text{نو} \qquad P = \frac{1}{1+y^2} \qquad \text{او} \qquad Q = \frac{\tan^{-1} y}{1+y^2}$$

اوس دراکړل شوې معادلې دحل لپاره دانتیګرال فکټور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int \frac{1}{1+y^2}dy} = e^{\tan^{-1} y}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس دراکړل شوې معادلې عمومي حل په لاندې ډول پیداکوو

